*Pashto*

Uppsala kommun

# د غذا د خوړولو په خونو او تالارونو کې

بوک کول او د چال چلند اصول

# د مطالبو لړلیک

قواعد او مقررات

د غذا د خوړلو د خونې/تالار لپاره باید
کوم څه په پام کې ونیول شي

بوک کول، د لغوه کولو پالیسي او د
هوکړه لیک تر پښو لاندې کول

## قواعد او مقررات

د Uppsala ښاروالۍ ملکیتونه د ټولو لپاره دي. که چیرې د ښاروالۍ کوم ملکیت کرایه کوئ، تاسو د دې بوک کولو، د چال چلند قوانینو او د مساواتو، رنګارنګۍ او عدالت په څیر د Uppsala ښاروالۍ د مهمو ارزښتونو په پام کې نیولو مسوولیت په غاړه لرئ. د نورو ملکیتونو اړوند د ټولو قوانینو او مقرراتو څخه د یوه شمیر هغو د ترلاسه کولو لپاره، تاسو کولای شئ د ښاروالۍ د ویب پاڼې د boknings--och-ordningsregler-2020.pdf (uppsala.se) لینک له لارې یې په سویډنی ژبه ولولئ.

د غذا د خوړلو د خونې/تالار لپاره باید کوم څه په پام کې ونیول شي؟

تاسو (کرایه کوونکی) عمر مو باید لږ تر لږه 18 کاله وي. تاسو (کرایه کوونکی) د ملکیت پر وړاندې مسوولیت لرئ. کله چې تاسو هغه ملکیت ته ورځئ او یا بیرته تري ځئ، تاسو د دې مسوولیت لرئ چې پام ورته وکړئ تر څو هر څه منظم ښکاره شي. که چیرې په ملکیت کې کومه ستونزه وي bokning@uppsala.se ته خبر ور کړئ. په مهربانۍ سره یو انځور ونښلوئ. له دې پرته، کیدای شي تاسو د بل چا د تیروتنې مسوول وګڼل شئ.

په ملکیت کې د فرنیچرونو پر سر په ورځنۍ ډول د پاکولو مهالویش او نقشه شته دي. که چیرې تاسو غواړئ په ملکیت کې فرنیچرونه له سره تنظیم کړئ، تاسو باید لکه څرنګه چې په نقشه کې ښودل شوي هغوی بیرته ځای پر ځای کړئ. د ټولو پر وخت ملکیت باید پاک او منظم وي. وړونه او کړکۍ باید بندې شي.

تاسو (کرایه کوونکی) مسوولیت لرئ چې ټولې هغه سطحې پاکې وساتئ چې کار مو ترې اخیستی دی. که چیرې پاک یې نه کړئ او اصول مراعات نه کړئ، له تاسو څخه به SEK 500 او د بیا ځلي تنظیم لګښتونه وګرځول شي.

په سم ډول پاک کول په دې معنی چې:

- خځلې یا بیکاره توکي باید د کڅافاتو په سطل کې واچول شي.
- غولي باید پاک وي. د بیلګې په توګه، ریګ، نوشابه، د واړي په څیر سپړې او د شیندلو کوچنې ګلان باید جارو او یا پاک شي.
- څوکۍ او میزونه باید پاک شي او د نقشې سره سم بیرته ځای پر ځای شي.
- هر هغه څه چې تاسو له ځان سره راوړي دي، باید بیرته یې له ملکیت څخه له ځان سره یوسئ. د بیلګې په توګه خواړه، پوکاڼې، وسایل، خځلې او نور پس مانده شیان.

تاسو نه شئ کولای له ځانګړې اجازې پرته په دې ملکیت کې لاندې کارونه ترسره کړئ.

- الکول ته اجازه نه ور کول کیږي.
- دې ملکیتونو ته مغزیات او بادام مه راوړئ.
- د مسوول مشر شخص له شتون پرته ماشومانو ته اجازه نه ور کول کیږي چې په دې ځایونو کې یوازې وي.
- تاسو باید په دې ملکیتونو کې له آشپز خانې او د هغې له وسایلو څخه کار وانه خلئ.
- په دې ملکیتونو کې د فوټبال په څیر د توپ وهلو لوبې مه ترسره کوئ.
- په دې ملکیتونو کې خواړه مه چمتو کوئ، یوازې له چمتو شویو خوړو څخه ګټه واخلئ.
- بوک شوی ملکیت بل چا ته په واک کې مه ور کوئ.
- تبلغات یا پوسټر مه لګوئ.
- د دې ملکیتونو په Fyrishov کې تاسو باید خپل خواړه او څښاک را نه وړئ.

د سګرټ څکولو او د نشه یي توکو کارولو ته په هیڅ صورت اجازه نشته.

تاسو د اور وژنې اړوند خوندیتوب مقرراتو په پام کې نیولو، په بیړنیو حالتونو کې د وتلو د لارو د نه بندولو او په سیمه کې له حده څخه د زیاتې ګڼې ګوڼې نه جوړولو مسوولیت په غاړه لرئ.
د یکشنبې – پنجشنبې ورځو له 22:00 بجو او د جمعې – شنبې ورځو له 23:00 بجو وروسته باید دا ځای آرام او چوپتیا پکې خوره وي.

## بوک کول، لغوه کول او د هوکړه لیک تر پښو لاندې کول

په وړیا ډول د لغوه کولو لپاره، تاسو باید حد اقل پنځه ورځې وړاندې دا کار ترسره کړئ. که چیرې تاسو اړ یاست چې د بوک کولو پنځه ورځې وړاندې یې لغوه کړئ، تاسو باید bokning@uppsala.se ته برېښنالیک واستوئ. که چیرې له پنځو څخه په کمو ورځو کې یې له وړاندې لغوه کړئ، تاسو باید فیس ادا کړئ. که چیرې تاسو خپل بوک کول لغوه کړي نه وي، SEK 1,000 جریمه د اونۍ د ورځو او SEK 1,500د اونۍ د پای د رخصتیو لپاره اضافه کیږي.
د هوکړه لیک د تر پوښو لاندې کولو په صورت کې، ښاروالي کولای شي پریکړه وکړي چې بوک کول له ځنډ پرته نه پلي کیږي.
د درې خبرداریو په صورت کې تاسو به وځنډول شئ او ستاسو راتلونکي بوک کول به حذف شي.